کډ ژوند



UNESCO

د ملګرو ملتونو تعليمي، علمي او کلتوري موسسه (يونسکو)
دافغاني مهاجرينو او بيرته ستنېدونکو د ښوونيزو او روزنيزو پروګرامونو
اداري او UNHCR په ملګرتيا

AREP

UNHCR

د لويې ازرې د نوښت پروژه، مالي لګښت: جاپان

۲۰۰۱ کال، نومبر

مرستندوی:

لیکوال:

بناغلی محمد آصف صمیم
پوهنمل عبدالحق دانشمل

کتونکي:

پوهاند ډاکټر الف شاه ځدران
پوهنمل اسمعیل یون
پوهندوی غلام دستګیر خاورین
پوهنمل عبدالحق دانشمل

کمپوزر:

عبدالصبور کریمي

مشر سلاکاران:

بناغلی ارشد سعید خان
پوهنوال لطف الله صافی

نیو لیک

لومړنی خبرې ۱
د ګډ ژوند اهمیت او ضرورت ۳

کورنۍ ۵
کلی ۹
بنارګوتی او بنار ۱۳
ملت ۱۵
بنوونځی ۱۷

همټولګیان ۲۰
بنوونکي ۲۲
سربنوونکي ۲۳
د بنوونځي ټولنه ۲۴
د ګډ ژوند لارې چارې ۲۵

جرګه ۲۵
اشر ۲۹
عدالت ۳۱
خپلمنځي درناوی ۳۲
مرستې ۳۴
په وعده وفا کول ۳۵
امانت داري ۳۶
سوله ۳۷
عفوه ۳۸
زغم ۳۹

PROPERTY OF ARIC Established 1985

Contributions:

Writers:

Prof. Abdul Haq Danishmal
Mr. Mohammad Asif Samim

Editing:

Dr. Alef Shah Zadran
Prof. Ismael Yoon
Prof. Ghulam Dastagir Khawrin
Prof. Abdul Haq Danishmal

Composer:

Abdul Saboor Karimi

Coordinator:

Mr. Arshad Saeed Khan
Prof. Lutfullah Safi

Living Together



UNESCO

UNITED NATIONS EDUCATIONAL, SCIENTIFIC AND CULTURAL ORGANIZATION (UNESCO)

IN COLLABORATION WITH

UNHCR AND AFGHAN REFUGEES/RETURNEES EDUCATIONAL PROGRAMS (AREP)

PUBLISHED UNDER
Greater Azra Initiative (GAI) Project
Funded by Govt. of Japan

UNHCR

November 2001

AREP

بسم الله الرحمن الرحيم

PROPERTY OF
ACKU
9875

لومړنی خبرې

په افغانستان کې د زده کړې شرایط ډیر کمزوري شوي دي. د یو نسکو اوسنیو څېړنو په ګوته کړې ده،چې په دې جنګ ځپلي هېواد کې ،دښوونځیو زده کوونکي پورې درسي کتابونه،نه لري.نه یوائې درسي کتابونه کم دي ، زاړه او نیمګړي هم دي،نو له همدې امله په ۲۱ پیړۍ کې د ماشوم اړتیاوې نه شی پوره کولای. په افغانستان کي ټلویزیوني خپرونې ،ورځپاڼې او د معلوماتو د لاس ته راوړلو نورې سرچینې نشته ،نو له همدې امله افغاني ماشومان،په عام ډول ،له هغو پرمختیاوو څخه بې خبره دي،چې په بهرنۍ نړۍ کې منځته راځي. دلوستوني مرستندویه موادو دغه لړۍ د یونسکو په نوښت خپرېږي. دا لړۍ به د افغاني ماشومانو د معلوماتو هغه برخې پیاوړې کړي،چې خورا مهمې دي او په درسي کتابونو کې نشته . د لوستوني مرستندویه موادو ددغې لړۍ موضوعګانې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

۱. ساینس – د ساینس اعجاز (نوې اختراعګانې)
۲. روغتیایي ښوونه او روزنه – د ماشوم د سالمې ودې او د لومړنیو مرستو لارښوونې
۳. اجتماعي کیدنه – ګډ ژوند (کورنۍ،همزولي او د سولې ښوونه او روزنه)

۴. د نفوسو چاودنه- د ژوندانه په سويې باندې د نفوسو د چټکې ودې اغېزې.

دغه لوستوني مواد په پښتو او دری ژبو خپاره شوي دي. دغه کتابونه د افغانستان د ښوونې او روزنې د پياوړو پوهانو او ليکوالانو له خوا ليکل شوي دي. د افغانې کډوالو / وطن ته بيرته ستنيدونکو ښوونيزه او روزنيزه اداره (AREP) چې يوه افغاني نا دولتي مو سسه ده،له يونسکو سره په ګډه کار وکړ او ددې کتابونو د مسودې د ليکنې، مخکيني ازمايښت،کمپوز او نهايي کولو لپاره يې اسانتياوې برابرې کړې. دغه فعاليت او هڅې د لويې ازرې د پروژې د نوښت له مخې،چې مالي لګښت يې د جاپان د حکومت له خوا ورکړ شوی دی،په لاره اچول شوي دي.

مونږ د افغاني متخصصينو له مرستې او د (AREP) له ملاتړ څخه د زړه له کومې مننه کوو. هيله کوو،چې دغه کتابونه به افغاني ماشومانو ته هغه کړنلارې او بهير روښانه کړي چې په نړۍ کې نوي منځته راځي. دغه کتابونه به هماړنګه د زده کوونکو د پوهې افق پراخه کړي . لوستوني مواد په ازمايښتي ډول خپرېږي او د سمون لپاره ستاسي وړانديزونو او کره کتنو ته هر کلی ويل کېږي.

مېرمن انګېبورګ برااينس
د يونسکو ددفتر مديره
اسلام اباد
د ۲۰۰۱ کال، د اکتوبر ۳۰ نېټه

د ګډ ژوند اهمیت او ضرورت

انسان د لوی خدای (ج) په مخلوق کې یوازینی مخلوق دی چې لوی خدای(ج) یې د یو موټي توب یادونه کړې ده، فرمایي :

ټول انسانان په لومړي سر کې ، یو ټولی و ، خو وروسته (په خپلو کې) دانه وانه شول . (یونس ۱۹) یا ټول انسانان (په لومړي سر کې) یو ټولی و (بقره ۲۱۳).

د انسانانو په یو موټي توب کې د لوی خدای (ج) له حکمته ښکاري ، چې د دوی په یو والي کې د ژوندانه د بېړۍ د پورې ایستو راز نغښتی دی ، ځکه لکه د ژوندانه د کاروان په پر مخ بیولو کې چې د انسانانو ، د کړو وړو ، ختې او مزاج رنګارنګي او اختلاف ته اړتیا ده ، دغسې یې یو موټي کېدو او په یوه ټولي کې راغونډېدو ته هم اړتیا ده . یانې ځانله ژوند تېرول د انسان هغه هڅې او فعالیتونه له خنډونو سره مخ کوي ، چې د نړۍ د پرمختګ لپاره ورته ورسپارل شوي دي.

انسان ته لوی خدای (ج) پر نړۍ او کایناتو ، ځمکه ، هوا او اوبو باندې د واکمنۍ وړتیا ور ښښلې ده . انسان له دغو وړتیاوو

هله کار اخیستلای شي ، چې له ګډې اوسېدنې او ټولنیز ژوندانه نه د خوند اخیستو پر لارو چارو پوه وي .

ګډ ژوند او له ټولنې سره یو ځای اوسېدنه انسان په ښه توګه پر سختیو او ستونزو برلاسی کوي. په ګډ ژوند کې د انسان کړاوونه وېشل کېږي او ښادۍ غبرګېږي.

راځئ ، چې د ګډ ژوند له ښېګڼونه د خوند اخیستو پر راز ځان پوه کړو او نورو ته همغومره ، ګټور شو ، لکه ځان ته.

که څه هم مخکې مو وویل ، چې یوازې انسان د خدای(ج) په مخلوق کې هغه څوک دی چې د ژوند راز یې په یووالي کې پروت دی ، خو د دې تر څنګ یا پر دې سربېره، ځینې نور ژوي (حیوانات)، هم خپل پایښت او پرمختیا په ګډ ژوند کې ویني .

د شاتو مچۍ به را واخلو چې ټول ګډ ژوند لري او تر یوه انتظام لاندې هره یوه خپله دنده سرته رسوي، مېږي هم همدا شان وي ، ټول د ورځې له خوا په کار پسې ځي ، توښه برابروي او بیا یې خپل ګډ کور یا استوګنځي ته راوړي او په دې دول خپل ګډ ژوند ته دوام ورکوي.

مېښې، غواوې ، پسونه، هوسۍ ، غرځې او نور هم ګډ ژوند کوي.

کورنۍ

ګرانو او خوږو کوچنیانو!

لکه څنګه چې کور ستاسو یو اصلي پالنځی دی ، ستاسې لومړنی روزنځی هم دی.

تاسې په کور کې له خپل مور و پلار، مشرانو خویندو وروڼو، نیا او نیکه څخه د ژوند اداب زده کوئ ! تاسې ته مور و پلار دا درښیي چې څنګه نورو ته سلام واچوئ.؟ څنګه ورسره سترې مشي وکړئ او څنګه یې درناوی وکړئ! ډوډۍ ته څنګه کښئ او د ډوډۍ خوړلو اداب څنګه یاد کړئ! د ساري په توګه کله چې تاسې سهار چای څښئ نو تر هغه د مخه مو باید خپل غاښونه په برس او د غاښو په کریم او یا مسواك پاك ستره وینځلي وي ، لاسونه مو ښه پاك وي او بیا د چای پر څښلو پیل وکړئ. د غرمې او مابنام ډوډۍ تر خوړلو د مخه او وروسته هم باید تاسې خپل لاسونه او خوله پاك ووینځئ او کنګال یې کړئ ، په دې ډول به هم ستاسې لاسونه پاك شي او هم به مو خوله پاکه ساتل شوې وي. دې ته مو باید پام وي چې که تاسې وخت پر وخت خپل غاښونه برس نه کړئ نو هلته به د خوړو ډبر پاتې شوني پاتې شي. دا پټې

يا پاتې شوني بيا د غابنونو تر منځ ورستېږي ، هم غابنونه چينجنوي او هم خوله بد بويه کوي او چې کله مو خوله بدبويه شي نو بيا له تاسې نه د کور نور غړي په تېره بيا د ډوډۍ پر وخت چې ټول پر دسترخوان ناست وي تنګېږي او مينه يې درسره کمېږي.

ګرانو او نازولو کوچنيانو !

لکه څنګه چې هر ماشوم او هر انسان مينې ، شفقت او مهربانۍ ته اړتيا لري او د همدې شفقت په نتيجه کې ورته د ودې لارې چارې برابرېږي . ستاسو مينډې او پلرونه هم پر تاسو زيات شفقت او مهرباني کوي ، ځکه چې د مور او پلار په زړه کې خداى (ج) د خپل اولاد لپاره ډېره مينه او عاطفه اچولي وي ،خو ګورئ چې دا مينه او شفقت تل يو اړخيز نه وي يانې يوازې بايد د مور او پلار له خوا نه وي . پر تاسو هم د ځينو کارونو سرته رسول لازم دي . په دې کارونو کې د مور او پلار درناوى ،د هغوى عزت کول ، خبره منل او لاسنيوى شامل دي.

ماشومانو ته په کار ده چې د کور په کارونو کې له خپل پلار او مور سره مرسته وکړي . مثلاً د ډوډۍ پر وخت لاس ته اوبه واچوي

، دسترخوان راوړي او نور هغه واړه کارونه چې په کور کې وي او مور و پلار يې ورته وايي هغه تر سره کړي.

د مور او پلار له اجازې پرته بايد له کور، ډېر لرې چېرې لاړ نه شي او کله چې له کوره وځي نو خپل مور و پلار ، يا مشران، خويندې ورونه خبر کړي ، ځکه چې تر کوره بهر يو شمېر خطرونه شته چې که ماشومان احتياط ونه کړي نو کېدی شي له خطرونو سره مخامخ شي.

بل که له مور و پلاره اجازه وانه خيستل شي نو ماشومان به همداسې بې پروا اموخته شي د ستونزو او خطر پر وخت به يې کورنۍ ور څخه هېڅ خبره نه شي، نو ځکه خو به ماشومان له زياتو ستونزو سره مخامَخ شي او راتلونکی ژوند به يې هم ډاډمن نه وي.

په هر ډول په يوه کورنۍ کې چې له ماشومانو ، ځوانانو او لويانو څخه جوړه ده ، ټولوته په کار ده چې هر يو خپله دنده سر ته ورسوي، ځکه چې په يوه کور کې ټول په ګډه ژوند کوي او کورنۍ د ګډ ژوند لومړنۍ سر چينه ده. لويان بايد پر ماشومانو مينه ، لورېينه او شفقت وکړي. هغوی ونازوي ، لارښوونه ورته وکړي. د ژوند لومړني اداب ورته ورزده کړي. له کتاب او قلم سره

يې اشنا کړي. د لويانو درناوي او احترام ته يې وهڅوي او د راتلونکي او اوسني ژوند لارو چارو ته يې متوجه کړي.

ماشومانوته هم په کار ده چې د خپل مور و پلار او نورو مشرانو درناوی وکړي، د کور په کار کې له هغوی سره مرسته وکړي ، د هغوی غوښتنې ومني له لارښوونې سره يې سم کار وکړي او له امر نه سر غړونه ونه کړي . همدغه مينه او د کور په چارو کې يو بل سره مرسته ماشوم دې ته تياروي چې په سالمه توګه د يو روغ ماشوم په بڼه له کورنۍ چاپېريال څخه راووځي او پر کليوالي چاپېريال ګام کېږدي.

اشکل کورغه

کلی

تر کورني چاپېريال وروسته د ماشوم لپاره دويم روزنيز او تکاملي چاپېريال همدا کلی او ولس دی . په کليوالي چاپېريال کې ماشوم له ګڼو خلکو او پېښو سره مخامخېږي .

ماشوم له نورو ماشومانو سره لوبې کوي ، مانځه او درس ته ځي ، د کښت او کرنې ځای ته ځي، کولبه او ماله وينې، د کلي مشران پېژني او ګڼ شمېر نورو مسايلو سره مخامخېږي.

ښه نو ګرانو او ګلالیو ماشومانو! تاسو چې کله له خپل کوره خپل کليوالي چاپېريال ته داخلېږئ نو تاسو ته څه شی لاړم دي او څه بايد وکړئ!

تر هر څه وړاندې خو تاسو ته دا لاړمه ده چې سهار د چای تر څښلو دمخه خپله سيپاره ځان سره واخلئ ، مسجد ته لاړ شئ او ملا صاحب څخه يو څه سبق ولولئ. تر سبق لوستلو وروسته همغه درس ځان سره څو ځله تکرار کړئ او بيا کور ته راشئ . چای چې مو وڅښه بيا نو له خپل پلار و مور څخه پوښتنه وکړئ چې که کوم کار وي هغه دروسپاري. لکه په سارا کې پلار يا ورور ته د

سباناري ور وړل چې هغه پر دې وخت پر کولبې کولو یا په سارا کې پر کوم بل کار اخته وي یا د هغوی پوښتنه کول چې کور کې خو یې څه شی په کار نه دی . که دا کار هم نه وي نو چې کله د لوبو لپاره له کوره وځئ او د کلي کوڅو یا میداني ته ځئ نو بیا هم باید له خپل مور و پلاره اجازه واخلئ . د لوبو پر وخت هم باید له ډېر احتیاط نه کار واخلئ ، یو بل سره بې ځایه لاسونه وانه چوئ ، نه په خاورو کې لوبې وکړئ ، نه یو بل ته خاورې وشیندئ، د کلي کوڅې خو هم ډېرې پاکې نه وي ، خاورې خځلې او ان ډنډونه او ډېرانونه په کې وي . اکثره ماشومان په همدې چټلو ځایونو کې لوبې کوي، یو بل باندې خاورې خځلې او چټلې اوبه شیندي او خپله هم پښې لوڅې ګرځي. له همدې کبله خو د ځینو ماشومانو پر لاسونو ډول ډول دانې خبرې. کله کله بیا د ماشومانو تر منځ جنګ و جدال هم پیښېږي او خبره ان د غټانو تر منځ جګړې ته وځي .

نو ګرانو ماشومانو! تاسو ته په کار نه ده چې د لوبو پر وخت یو بل سره جګړه وکړئ . ځینې ماشومان بیا داسې هم دي چې د لوبو پر وخت پریوه وړوکي څیز سره وران شي یو بل سره لاس واچوي او یو بیا په ژړا کور ته لاړ شي او ووایي چې زه پلاني ووهلم . کورنۍ

ته هم سمه خبره ونه کړي نود کورنۍ مشر (پلار يا ورور) راشي او هغه بل هلك ته په قهر شي او يا يې ووهي نو دې کې بيا د هغه بل هلك د کورنۍ مشران هم راشي او خبره ډېرې غټې جګړې ته ورسېږي.

نو تاسو بايد هېڅکله داسې لوبې ونه کړئ چې په پای کې خبره جګړې ته ورسېږي، ځکه چې د لوبو هدف جنګ اوجګړه نه ده ، بلکې مستي او ساعتېري ده . په لوبو کې هم تاسو بايد هغه لوبې انتخاب کړئ چې تاسې ته په کې ضرر نه وي او صحت ته مو ګټه ورسوي لکه منډه وهل،په نرم او شګلن ځای کې توپ اچول، خوسی کول او داسې نور . داسې لوبې ونه کړئ چې ستاسو په کې يا سر مات شي يا پښه ، لکه غونډار جنګي کول ، يا په غولکو يو د بل ويشتل چې د سترګې د وتلو او يا د سر د ماتېدلو امکان په کې شته او يا هم پر وچه ، سخته او له تيږو ډکه ځمکه بې ځايه توپونه وهل او داسې نور.

هو ګرانو ماشومانو !

يوه بله خبره چې تاسو بايد ورته ډېر پام وکړئ هغه دا ده چې هېڅکله د بامونو پر سر لوبې ونه کړئ، نه پتنګان والوزوئ او نه

نورې لوبې ، ځکه چې د رالوېدو خطر لري. يو شمېر ماشومان له همدې امله له بامونو راغورځېدلي هم دي.

ګرانو ماشومانو ! په کلي کې د لوبو پر وخت د ډېر پام کولو تر څنګ ځينې نور مهم شيان هم شته چې هغه هم بايد په پام کې وساتئ ځکه چې هغه ستاسې اخلاقي دنده ګڼل کېږي. لکه په کلي کې د ټولو مشرانو ، سپين ږيرو او ځوانانو احترام او درناوی.

د ساري په ډول کله چې د کلي ملا امام ، ملك ، سپين ږيري او يا ځوان سره مخامخېږئ نو سلام ورته واچوئ ، که د هغو په لاسو کې کومه غوټه وه نو هغه ترې واخلئ او کور ته يې ور سره ورسوئ. د هغوی که څه شی په کار و لکه اوبه او کور ته کوم احوال، نو هغه ورته ژر تر ژره راوړئ او تر سره يې کړئ. په دې ډول تاسو پر مشرانو ډېر ګرانېږئ او بيا چې تاسو هر څه غواړئ هغوی يې درته راوړي او پيدا کوي يې.

ګرانو ماشومانو!

بله ډېره مهمه موضوع چې تاسې بايد ورته ډېر پام وکړئ هغه دا ده چې دا ټول کلی په حقيقت کې د يوه کور مثال لري او هر څوك بايد په کې يو کار سر ته ورسوي ،مثلاً ترکان ترکانې کوي ،

زغ ، سپاره ، کتونه ، د کور ورونه، کړکۍ او نور شیان جوړوي.
پښې ، ببلونه ، د سپارې پلونه ، لرونه او نور ډول ډول وسایل جوړوي. نایي (سلماني) د کلي د ماشومانو او ټولو نارینه وو وېښتان جوړوي ، په غم و ښادۍ کې برخه اخلي . ملا د کلي امامت کوي ماشومانو ته سبقونه وایي . بزګر بزګري کوي. ښوونکی زده کوونکو ته درس لولي او په دې ډول د ټول کلي ژوند برابرېږي، خو که دې کې یو هم خپل کار پرېږي د ټول کلي ژوند ورسره خرابېږي.

نو تاسو چې کله په کلي کې لوبې کوئ او یا سره کښئ پاڅېږئ نو یو بل ته باید پېښور ورنه کړئ لکه او د پښې زویه! یا د ترکانو بچیه یا د بزګر زویه!، ځکه چې دا ټول کسبونه دي او د همدې کسبونو په برکت د ژوند څرخ تاوېږي، ټول کلی او بیا ټوله ټولنه سوکاله کېږي.

ښارګوټی او ښار

ګرانو کوچنیانو!

تاسې پوهېږئ، چې زمونږ د کورنۍ د شمېر په زیاتېدو زمونږ اړتیاوې هم زیاتېږي. که په کور کې مو د څلور کسیزې کورنۍ

(پلار ، مور ، خور او ورور) لپاره یو وخت یوه خونه بس وه ؛ نو زمونږ د خویندو او ورونو د شمېر په زیاتېدو پلار یا د کورنۍ مشر اړ دی ، چې مونږ ته زمونږ د شمېر او اړتیا په اندازه خونه یا خونې جوړې کړي.همدا رنګه زمونږ د شمېر په اندول خواړه ، جامې ، تعلیم او نور ضرورتونه برابر کړي. دغه راز که په کلي کې کورونه کمېږي، خلك اړ دي چې له کلي بهر ووځي او نوې نوې ودانۍ جوړې کړي. همداسې که په یوه کلي کې د خلکو د اړتیاوو د لرې کولو لپاره یوه هټۍ یا دوکان وي نو طبیعي خبره ده چې هغه د ټولو کلیوالو چې شمېر یې وخت پر وخت مخ پر زیاتېدو وي ، اړتیاوې نه شي پوره کولای ، نو ځکه د دې اړتیاوو د پوره کولولپاره نورو دوکانونو یا هټیو ته اړتیا پېښېږي.

همداعوامل دي ، چې د کلي یو دوکان ورو ورو په دوو ، دریو دوکانو اوړي او ان بازار جوړېږي او همدا بازار بیا د وخت په تېرېدو او د اړتیاوو په زیاتېدو په ښارګوټو او بیا په ښارونو اوړي. ښارونه هم د خلکو شمېر له مخې پراخېږي او د هغوی له اړتیاوو سره سم په کې پاخه سړکونه، دوکانونه ، ښوونځي، د برېښنا شبکې، فابریکې، دفترونه، پارکونه او د اړتیا وړ نور شیان جوړېږي.

ملت

خوږو زده کوونکو!

زمونږ ګران افغانستان چې د اسیا په زړه کې پروت دی، ۶۵۰،۰۰۰ کیلو متره مربع مساحت لري. په دې هېواد کې ، چې په وچه پورې تړلی دی ، تقریباً ۲۶ میلیونه خلك اوسېږي. زمونږ د هېواد په شمال کې د تاجکستان ، ازبکستان او ترکمنستان جمهوریتونه پراته دي . په لویدیز کې د ایران له اسلامي جمهوریت سره او په جنوب او ختیځ کې د پاکستان اسلامی جمهوریت او په شمال ختیځ کې د ۸۵ کیلو مترو په اوږدوالي د چین له ولسي جمهوریت سره ګډه پوله لري.

زمونږ د هېواد نوم افغانستان دی . افغانستان پنځه زره کلن تاریخ لري. لومړی زمونږ هېواد د اریانا ، بیا وروسته د خراسان په نوم یادېده . کله چې احمد شاه درانې د دې سیمې واك تر لاسه کړ په دې هېواد یې د افغانستان نوم کېښود.

په دې هېواد کې بېلا بېل قومونه او ملیتونه سره یو ځای اوسېږي. دغه ټول قومونه او ملیتونه چې په دې هېواد کې ژوند کوي د افغان په نوم یادېږي.

مورِ او تاسې ټول د دې هیواد اوسیدونکي یو . مورِ ته په کار ده ، چې په خپل ګران هېواد افغانستان کې د ورونو په توګه ژوند وکړو. مورِ په دې هېواد کې هله د ورونو په توګه ژوند کولای شو ، چې خپل او د بل حق وپېژنو او یو او بل ته درناوی وکړو.

له ۱۹۷۸ میلادي کال څخه را په دیخوا زمورِ په هېواد کې اوږده او ورانوونکي جګړه روانه ده . دغې جګړې زمورِ ټولې شتمنۍ له منځه وړي دي. له بل هر وخت څخه زیات اوس مورِ افغانان سولې ته اړ یو ، نو مورِ ته په کار ده چې په هېواد کې د سولې او ملي یووالي لپاره هڅې وکړو او د هېواد د ودانولو لپاره د یو او د بل مرسته وکړو. دغه هدف په هېواد کې د ښوونې او روزنې له لارې لاس ته راتلای شي.

راځئ چې ښوونځیو ته لاړ شو ، ښه سبقونه ولولو او د راتلونکي افغانستان د ابادولو لپاره ځانونه چمتو کړو . خپل هېواد او وطنوال له دې بدمرغیو څخه چې زمو په هېواد کې شته وژغورو.

ښوونځی

خوږو ماشومانو!

لکه څنګه چې تاسو په خپل کور او کلي کې له خپل مور و پلار، مشرانو او خپلو همزولو څخه د ژوند اداب او لارې چارې زده کړل او زده کوئ یې ، دغه راز ښوونځی د ښوونې او روزنې بل هغه مرکز دی چې تاسو په کې سبق لولئ ، روزل کېږئ او پوهه په کې زده کوئ

۲ شکل: د ښوونکو غونډه

په ښوونځي کې ستاسو ستر روزونکی معلم (ښوونکی) دی ، چې ستاسو معنوي پلار ګڼل کېږي، لکه څنګه چې تاسو خپل پلار

ته درناوی کوئ، داسې د ښوونکي درناوی هم دربانديې لازم دی.
د درس پر وخت بايد د ښوونکي خبرو ته ښه په ځير سره پام وکړئ
او زيار وباسئ چې يوه خبره يې هم در څخه خطا نه شي .

د ښوونکي له اجازې پرته له ټولګي څخه مه وځئ او که څه
اړتيا در پيښه شوه له خپل ښوونکي څخه اجازه واخلئ.

د ښوونځي او ټولګي په پاکوالي کې هم له ښوونکي او ادارې
سره مرسته وکړئ، ځکه چې ښوونځی ستاسو دويم کور دی.
څومره چې کور ښکلی او صفا وي ، اوسېدونکي يې پاك ،
خوشحاله او سوکاله وي. تاسو چې څنګه د خپل کور په پاکوالي
کې برخه اخلئ همداسې بايد د ښوونځي په پاکوالي کې هم وندې
واخلئ!

ګرانو زده کوونکو ! لکه څنګه چې په کور کې مشر او کشر ،
لوی او ووړ معلوم وي، داسې په ښوونځي کې هم مشر او کشر
معلوم وي او د يوه کور د غړو په څېر کار کوي. د ښوونځي مشر
سر ښوونکی يا مدير وي ، ور پسې د هغه مرستيال او بيا
ښوونکی وي چې سر ښوونکی يا مرستيال اداري او تدريسي
چارې پر مخ بيايي. ښوونکي تدريس کوي،ملازم يا چپړاسي بيا
ښوونځی پاکوي او نورې چارې سرته رسوي. زده کوونکي هم

درس لولي او هم د ښوونځي او ټولګي په پاکوالي کې برخه اخلي يانې دا چې ټول د يوې کورنۍ د غړو په توګه خپل ښوونځی ښه او پاک ساتي او د همدې ګډې همکارۍ له کبله اصلي کار چې درسونه او سبقونه دي دوام پيدا کوي. که چېرې دا ګډه ملګرتيا نه وي نو د ښوونځي چارې په ټپه ودرېږي، خو که دا همکاري وي نو له تاسو ګلالیو ماشومانو څخه سبا ورځ ډېر ښه ښه انجنيران ، ډاکټران او ښه ښه پوهان جوړېږي، بيا کولای شئ په خپله پوهه هم خپل کور روښانه کړئ او هم خپله ټولنه او هم خپل هېواد.

ګرانو زده کوونکو!

که ښوونکی او ښوونځی نه وای نو نن به په دنيا کې دا دومره علمي پرمختګونه او بريالیتوبونه نه وو. زمونږ د ژوند ډېرې خواوې به تياري وې او بشري ژوند به د جهالت په منګولو کې ښکېل و .

ښه نو ګرانو ماشومانو!

ښوونکی او ښوونځی چې دومره ستر او لوی ارزښت لري تاسې ته په کار ده چې د ښوونکي ډېر زيات درناوی وکړئ، خپل ښوونځی پاک وساتئ . خپل درسونه په ښه شوق ولولئ. د

ښوونځي قوانين پر ځان عملي کړئ . غير حاضري ونه کړئ او څه چې درته ښوونکي وايي هغه پر ځان ومنئ او عملي يې کړئ.

ګرانو کوچنيانو!

تاسې پوهېږئ، چې انسان په يوازې ځان خپلې ټولې اړتياوې نه شي پوره کولای او اړ دی چې د يو بل له پوهې او وړتيا ګټه پورته کړي، د دې کار روښانه بېلګه په ښوونځي کې د بېلا بېلو مضمونونو او د هغو د ښوونکو شتوالی دی ، يانی په ښوونځي کې د هر مضمون د ښوونکي شتوالی دا ښيي، چې که د ښوونځي ټول مضمونونه يوه ښوونکي ته وسپارل شي ، هغه به يې پر ښوونه بريالی نه شي. نه به له هغه نه زده کوونکي پوره علمي ګټه يا استفاده وکړای شي. نو ځکه ويلای شو ، چې د چارو وېش د چارو په پرمختګ او سمون کې لوی لاس لري.

همټولګيان

خوږو زده کوونکو!

تاسې ټول خواږه ماشومان، چې له بېلابېلو کورنيو څخه راځئ او دلته په يوه ځای کې راغونډ ېږئ او کښئ او ښوونکي درته

درس وايي ، تاسې په خپلو منځو کې همټولګيان ياست. هغه ماشومان چې دلته په يوه ځای کې د ښوونکو له لارښوونې سره سم په تدريسي فعاليتونو کې ونډه اخلي ، ټولګی بلل کېږي. ټولګی ستاسې دويم کور دی . تاسې ټول په خپلو منځو کې سره وروڼه او ملګري ياست. نو په کار ده چې يو او بل ته د ورور او ملګري په سترګه وګورئ او درناوی يې وکړئ.

که چېرې ستاسې کوم همټولګی په درس کې کمزورې وي ، له هغوی سره په درسونو کې مرسته کول ، د همټولګي خبروته غوږ نيول ، د تدريس پر وخت خبرې نه کول ، د درس د ګډوډولو مخنيوی کول، له ښوونکو سره د درس په وخت کې مرسته کول ، په درسي فعاليتونو کې ونډه اخيستل ټول هغه کارونه دي، چې د ګډ ژوند بنسټ جوړوي. تدريس او زده کړې دري هدفونه لري، چې له پوهې او معلومات حاصلولو، مهارت زده کولو او ارزښتونه په پام کې نيولو څخه عبارت دي.

ملي ، ديني او ټولنيز ارزښتونه ، يو بل ته درناوی ، له محتاجانو سره مرسته ، رښتينولي ، امانت داري او داسې نور ، په بر کې نيسي. که چېرې زده کوونکي پوهه لاس ته راوړي ،

مهارت حاصل کړي او ارزښتونه په پام کې ونيسي نو ټولنه د ودې په لور چې زمونږ او ستاسې هدف دی ، مخ پر وړاندې ځي.

ښوونکی

خونږو ماشومانو!

ښوونکی په ښوونځي او ټولګي کې د زده کوونکو معنوي پلار دی . مور او پلار ، يانې کورنۍ تاسې ته د ژوندانه ټولې اسانتياوې برابروي. دوډۍ، جامې ، د استوګنې ځای ، د ښوونې او روزنې اسانتياوې درمل او داسې نور برابروي. تاسې ته په کار ده چې د مور او پلار خبره ومنئ ، درناوی يې وکړئ او د اړتيا پر وخت يې لاس نيوی وکړئ. خو يو مثل دی چې وايي : دوست هغه دی ، چې تاسې ته د کبانو د نيولو پر ځای ، د کبانو دنيولو لارې چارې وښيي. همدغه خبره ده چې ښوونکي ته معنوي پلار هم ويل کيږي. ښوونکي مونږ ته پوهه، مهارت او ارزښتونه را زده کوي. په پوهه او مهارت کولای شو چې دوډۍ ، جامې ، کور او نورې اړتياوې پوره کړو او د ارزښتونو په زده کولو سره په ټولنه کې د اوسېدنې غوره لارې چې له محتاجانو سره مرسته ، زغم ، متقابل

احترام ، په سوله کې اوسېدنه او په پای کې په ټولنه کې د ګټور غړي په توګه ژوند کول دي، زده کړو، چې دا ټول د ښوونې او روزنې په مرسته تر سره کېدای شي.

PROPERTY OF PACKU

سرښوونکی

سرښوونکی د ښوونځي مشر، اداري او تدريسي لارښود دی. د سرښوونکی دنده داده چې په ښوونځي کې نظم راولي او د تدريس او زده کړې فعاليتونه په اغېزمنه توګه مخ پر وړاندې بوځي. د ښوونځي اداري او تدريسي فعاليتونه هغه وخت په بريالي ډول سر ته رسېږي، چې ښوونکي او زده کوونکي خپل درسي کارونه په خپل وخت سر ته ورسوي او د ښوونځي د فعاليتونو په سر ته رسولو کې له سر ښوونکو سره مرسته وکړي.

د دې لپاره چې دغه ټول کارونه په منظم ډول پر مخ لاړ شي ، نو سرښوونکي ته په کار ده چې په ښوونځي کې د ښوونکو او زده کوونکو په وړاندې د زړه سوې له مخې چلند وکړي او ټول کار کوونکي وهڅوي ، چې په مينه او محبت د ښوونځي او ټولګي

فعالیتونه سر ته ورسوي او د وطن د ودانولو لپاره پوخ بنسټ کېږدي.

د ښوونځي ټولنه

د ښوونځي ټولنه له زده کوونکو، ښوونکو، اداري مامورینو ملازمینو څخه جوړه شوې ده . په ښوونځي کې یا په ښوونه او روزنه کې ښوونکی د ملا تیر ګډل کېږي. په ښوونځي کې زمونږ د ټولو هڅه داده چې زده کوونکو ته درسي کتابونه په اغېزمنه توګه تدریس شي . د دې لپاره چې دغه هدف لاس ته راشي ، نو د ښوونځي لپاره ودانۍ ، لابراتوار ، کتابتون ، د لوبو میدان ، عښتلیو ښوونکو، په زړه پورې درسي کتابونو ، درسي موادو او درسي مرستندویو موادو ته اړتیا ده . د دې لپاره چې دغه ټول مواد او اسانتیاوې په خپل وخت برابرې شي ، د سر ښوونکي منظمې اداري او منجمنټ ته اړتیا ده . د یادونې وړ خبره ده ، چې د زده کوونکو هڅونه او د ښوونځي په فعالیت کې په مینه وندې اخیستنه، او د ښوونځی د کار کوونکو ګډې هڅې د بریاوو د

لاس ته راوړلو بنسټ جوړوي.زده کوونکو، ښوونکو ، سرښوونکو او نورو کارکوونکو ته په کار ده چې د هېواد د ودانولو لپاره په ښوونځي کې د تدریس او زده کړې پوخ بنسټ جوړ کړي.

د ګډ ژوند لارې چارې

ګرانو زده کوونکو! ګډ ژوند د انسان لپاره یو لوی نعمت دی. په ګډ ژوند او ګډې ملګرتیا سره مور کولای شو ، د ژوند له ډېرو سختیو ، ستونزو،خطرونو او ګواښونو سره مقابله وکړو او د هغو مخه ونیسو.

دلته به تاسو ته د ګډ ژوند او ګډې همکارۍ ځینې لارې چارې دروپېژنو!

جرګه

زمور په ټولنه کې جرګه ډېرې زړې او پخې جرړې لري او د اریایانو له وخته یو راپاتې میراث ګڼل کېږي.افغانانو نن هم دا

دود منلی او پاللی دی او پر جرګه ټینګ ولاړ دي. د دوی تر منځ چې کله یو ستر کار یا شخړه پېښه شي ، نو جرګه جوړوي او هره ستونزه اواروي.

۳ شکل: جرګه

جرګه ځانله اصول او قوانین لري. د جرګې ځای ، ځایګی ټاکل شوی وي ،چې هوجره ، دېره ، چوتره یا لوی جومات وي. د جرګې خلك یا جرګه ماران هم ټاکل شوي سړي وي، چې هر چا، هر قام او خېل ته منلي وي او څوك يې په منلو نه ورانېږي.

جرګه ماران پر يوه ځای راغونډېږي ، د جرګې وړ خبره يا موضوع منځته را اچوي ، پر موضوع باندې وار پر وار خبرې کېږي، پوهان ، هوښياران، مخور او سپين ږيري چې د جرګې غړي وي ، پر موضوع رڼا اچوي. هر اړخ يې څېړي . د جرګې هر غړی د خپلې وينا په سر کې د خپلې پوهې او وړتيا له مخې خپله موخه او مدعا د کيسو، مثالونو او متلونو په راوړلو روښانوي. بيا په خوږه او پخه ژبه د هوښيارانو خبرې را اخلي او خبرې مخ پر وړاندې ځي.

د جرګې فضا ډېره دوستانه او له خپلمنځي درناوي ډکه وي . هر غړی په کې په خپل وار په خوږه ژبه ګډېږي. په جرګه کې که څوك سپکه خوله وخوځوي؛ نو جرګه مخ وراړوي او ورته وايي ، چې بد دې وويل، پر يې ، دا د افغانان له جامې سره نه ښايي او دا پړه او مخ اړونه د هغه لپاره مرګ دی ؛ ځکه خو د جرګې هر غړی د غونډې درناوی کوي . د جرګې پر وخت وسله وال کشران او ځوانان د جرګې د امنيت ساتلو لپاره تيارسې ولاړ وي . د جرګه مارو دخدمت او خوراك څښاك لپاره ببل ځوانان ولاړ وي.

د جرګې وخت او موده د جرګې د موضوع په ارزښت پورې اړه لري. که موضوع ډېره درنه او پېچلې وي، کېدی شي ، ورځې

ورځې واخلي ؛ خو جرګه ماران تر هغې نه پاڅېږي، يا د جرګې پاى نه اعلانوي، تر څو چې تړې پايله او نتيجه راونه وځي او دواړه خواوې پر پرېکړه بسيا نه شي.

د جرګې د پرېکړې په منلو پسونه حلال شي او په ګډه وخوړل شي او په دې توګه له زړونو خيرى او زنګ لرې شي.

دا خو د خپلوانو او کليوالو تر منځ د شخړو د اواري جرګې وې. دا جرګې زمونږ د ولس په ملي او سياسي ربړو کې هم لوى او تاريخي نقش لري، چې د هېواد د سياسي برخليك ټاکنه يې مسوولیت وي.

دا وخت چې زمونږ ملي برخليك له سختو ستونزو سره مخ دى ، په کار ده چې د خپلو ملي او ټولنيزو مشرانو په ګډون د يوې لويې جرګې په جوړېدو دغه ستونزې اوارې کړو.

لکه څنګه د جرګې دودونه او لارې چارې چې ټاکلي وي ، دغسې د جرګې خلك يا جرګه ماران هم خپلې ځانګړنې او خصوصيات لري . د جرګې په ادابو کې تر هر څه لومړى ، د جرګه مارو له خوا له دواړو خواوو نه دا واك او موافقه اخيستل کېږي ، چې دوى به د جرګې او جرګه مارو پر پرېکړو پوره ډاډ او باور لري او د هېڅ ډول سرغړونې او مخالفت حق به نه لري. د دې

لپاره چې جرګه خپلې پربکړې سمې عملي کړي ، له دواړو غاړو نه يوه اندازه پيسې د تضمين په ډول اخلي . کله چې جرګه پربکړه وکړي او بيا د شخړې يوه غاړه د جرګې پربکړه ونه مني دا پيسې د جرګې مال ګڼل کېږي ، او هم به دا لوری جرګې ته پرې وي.

جرګې سره کړې ژمنې او تړون ته "واك" ويل کېږي، چې دواړه خواوې خپلو جرګه مارو ته د خپلې ارادې د واك او د نه سړغړونې ژمنه او لوز کوي. جرګې له دواړو خواوو نه په واك اخيستو په ډاډه زړه د پربکړې او د خپلې پربکړې د ارزښت پر اغېزمنتوب باوري کېږي.

اشر

پاك خدای (ج) انسانان په ښلا ښلو حالتونو او اړتياوو پيدا کړي دي او ښايي دا د همدې لپاره وي ، چې هر يو پوه شي ، چې زه په يوازې ځان په ټولنه کې خپلې ټولې غوښتنې او اړتياوې تر سره کولای نه شم او اړ يم، چې د خپلو چارو او نيمګړتياوو په تر

سره کولو کې نورو ته لاس اوږد کړم او همدا رنګه کېدی شي ، زه هم سبا د چا د نیمګړتیاوو په لرې کولو کې لاس وکړای شم.

دا سوچ او فکر زمونږ په ولسي ژوند کې تر ښاري ژوندانه زیات پیاوړی دی او یو بل ته د خیر ښېګڼې رسونې دود له پخوا راهیسې ژوندی دی. په ولسي ژوندانه کې یو بل ته لاس ورکول پر ځان پور بلل کېږي او هر څوک پر سخته ورځ یو بل ته ځان رسوي. دا کار د ولسي ژوند یا ټولنیز ژوندانه بنسټ دی.

په ولسي ژوندانه کې د خپلمنځي ګډ ژوند یوه بېلګه هم په بزګرۍ او کرنیزو چارو کې د ګډ کار دود دی، چې په ولسي ژبه ورته اشر وایي . په کلي ولس کې د اقتصادي ژوند ودانۍ پر بزګرۍ او کرنه ولاړه ده ، او په کر کرونده کې یو بل ته لاس ورکول هغه کار دی، چې هم پرې د بزګرو کرنیزې چارې پر مخ ځي او هم د ورورولیز او ټولنیز ژوند یو ښه دود دی.

په کلیوال او بزګري ژوند کې د خلکو د اقتصادي ژوند کچه په یوه اندازه نه وي ، یو څوک د کر کروندې د چارو لپاره د جوړه غویانو ، (کولبې) د درلودو وس لري، یو بل څوک بیا که کولبه نه لري نو د متو زور ور سره وي ، دوی دواړه خواوې د یو بل له وړتیا او استعداد نه په خپلو چارو لکه کرنې ، غوبله ، درمند او

داسې نورو کې کار اخلي، چې همدې کډ او خپلمنځي کار ته ، لکه مخکې چې وویل شول اشر وایي ، چې د ټولنیز ژوند یوه ښه په زړه پورې او ګټوره بېلګه ده.

ء شکل :اشر

ء شکل :اشر

عدالت

زموږ په ولسي جوړښت کې د ستونزو شمېر او د اړتیاوو شتوالی هم څه کم نه وي ، ځکه کلیوال او ولسي خلك د خپلو

ستونزو د اواري لپاره د کار روزګار پوره وسيلې نه لري، ټوله مخه يوازې کر کروندې ته وي او د هغې لپاره هم هر څوك د ځمکې خاوند نه وي، نو همدا اقتصادي کمزوري د دې سبب شي ، چې يو پر بل دعوې د نګلې هم زياتې شي.

د دغو دعوو د اوارلو لپاره هم په ولسي دودونو کې په زړه پورې لارې چارې شته ، چې دعوې او شخړې پرې حلېږي. له دغو لارو څخه يوه غوره لاره همدا جرګه او مرکه ده چې د عدالت پر بنسټ ولاړه ده او د جوړښت په باب مو ورته د مخه يادونه وکړه.

په ټولنه کې د عدالت لپاره په کار ده چې د حق په جانبه او ملامته تر منځ توپير وشي او د قضاوت پر وخت د يوه لوري يا بل لوري په خوا ونه دريږو . بې پرې قضاوت او د ښو او بدو تر منځ تميز او د حق په جانبه او ملامته په ګوته کول د ګډ ژوند ډېر مهم اصل ګڼل کېږي.

خپلمنځي درناوی

زمونږ په ټولنه کې د مشر او کشر د حقونو پېژندنه يو اخلاقي بنسټ دی. زمونږ خلك يوازې هغه څوك مشر نه بولي ، چې د دوی

د ملي او قومي چارو سمبالښت کوي، بلکې دوی هغه څوک هم مشر ګڼي، چې ان یوه ورځ یو تر بله مشر وي ، درناوی یې پر ځان لازموي.

زمونږ خلك د همدغه خپلمنځي درناوي پر بنسټ خپلې ژوندنۍ چارې پر مخ بیایي . د دوی تر منځ د مشر او کشر د حقونو د پېژندنې په برخه کې هیڅ ستونزه نه لیدل کېږي. همدا سبب دی ، چې د دوی تر منځ په ټولنیز ژوندانه کې که کله ټکر پېښېږي،لکه په کلي کې د اوبو پر وېش د دوو ورونو تر منځ د ځمکې پر وېش او یا په ښوونځي کې د زده کوونکو تر منځ د نومرو پر سر شخړه او ټکر. نو مشران او ښوونکي پر کشرانو او زده کوونکو باندې د خپل ناپېیلتوب او اغېزمنتوب له لارې د دوی تر منځ داسې منځګړتوب کوي ، چې هم په کې عدالت او انصاف زیانمن نه شي او هم د دوی د خپلمنځي درناوي اندازه وساتل شي.

نوګرانو ماشومانو او تنکیو ځوانانو! تاسو ته هم په کار دي ، چې په کور ، کلي ، جومات، ښوونځي او ټولنه کې همدا د خپلمنځي درناوي بنسټ ته په پاملرنه د ژوندانه ښېرۍ پورېباسئ، ځکه که مو داسې ونه کړل، نه یوازې یو ډاډمن او مطمئن ژوند به

مو نه وي درلودلای؛ بلکې په خپله ټولنه کې به له هغه درناوي او ارزښت نه هم بې برخې شئ ، چې مشران يې درته کوي.
نو راځئ چې سر له همدې ننه د خپلو او نورو د حقوقو په پېژندنه همغه ځای اومقام تر لاسه کړو ، چې مور ته خپلو مشرانو او خپلو د ودونو ساتلی دی.

مرستې

له يو بل سره مرسته او د يو بل لاس نيوی په ټبره بيا د محتاجانو سره مرسته د ګډ ژوند ډېر اغېزمن اصل دی. د دې اصل اهميت زمور په هېواد کې ډېر زيات دی. له دوولسيزو څخه زياته موده کېږي ، چې زمور په هېواد کې جګړه روانه ده ، هره ورځ په لسګونو خلك په جګړو او ماينوټپي کېږي، نو زمور د هر يوه وظيفه ده چې يو بل ته لاس ورکړو ، ځان او هېوادوال له دې ستونزو څخه وژغورو.
راځئ چې يو له بل سره مرسته له ټولګي څخه پيل کړو. له ښوونکو سره د منظم درس په وړاندې کولو کې مرسته وکړو او

هغه همټولګیان مو چې په درس کې کمزورې دي ، له هغوی سره په درسونو کې مرسته وکړو. د تدریس او زده کړې په عملیه کې له ښوونکو سره د ټولګي په تنظیم ، د درسي موادو په برابر ولو او نظم کې لاس ورکړو. په دې توګه به یو له بل سره مرسته او لاس نیوی زمونږ عادت شي او دا هغه کار دی چې د ګډ ژوندانه بنسټ جوړوي او ښوونه او روزنه یې هڅوي.

په وعده وفا کول

زمونږ سپېځلی دین له مونږ هر یو څخه غواړي چې په وعده وفا وکړو. زمونږ د هر یوه وظیفه ده چې د خپلې کورنۍ ، کلي او ښوونځي ګټور غړي شو. نو مونږ ته په کار ده چې په خپل وخت ښوونځي ته لاړ شو ، درسونه په شوق ووایو ، کورنۍ وظیفه سرته ورسوو. په خبرو او عمل کې ربښتینې وسو .زمونږ صداقت ، ګټورتوب او ربښتین ولي هغه وخت د منلو وړګرځي ، چې په خپلو وعدو ، وفا وکړو.

که تاسې ته ښوونکي ووايي چې په خپل وخت ښوونځي ته راځئ، په درسونو کې کوښښ کوئ، کورنۍ وظيفه سر ته رسوئ او د لويانو درناوی کوئ. مشر او کشر پېژنئ. که نومورې ټول کارونه په ربنتيا سره په خپل وخت له وعدې سره سم سرته ورسوئ، نو تاسې په وعده وفا کړې ده. په وعده باندې وفا ستاسې او د ښوونځي اعتبار او ارزښت زياتوي.

امانت داري

امانت داري ، زمونږ د سپېځلي دين له بنسټيزو اصولو څخه شمېرل کېږي. په امانت کې خيانت کول ، ټولنه فساد ته بيايي ، په ټولنه کې باور له منځه وړي او د ګډ ژوندانه بنسټ کمزورې کوي.

تاسې مور او پلار ښوونځي ته لېږي ، چې زده کړه وکړئ. د زده کړې په خاطر پر تاسې باندې په کور کې نور کارونه سرته نه رسوي. ستاسې پر ځای د کور نور غړي زياتې هلې ځلې کوي ، چې د کورنۍ لپاره خواړه، جامې ، د استوګنې ځای ، د ناروغانو

لپاره درمل او ستاسې لپاره د ښوونځي لګښت برابر کړي. نو تاسې ته په کار ده هغه دنده چې تاسې ته سپارل شوې ده ، په ښه توګه سرته ورسوئ او امانت پر ځای کړئ.

سوله

د افغانستان د تاریخ په دې وروستي پړاو کې مو ډېرې جګړې ولیدلې قهرمانۍ مو وګټلې خو له بده مرغه په دې اوږده جګړه کې مو له هېواد څخه سپېره دښته جوړه کړه.

خوږو ماشومانو!

له جګړې څخه سوله اسانه ، ارزانه او ګټوره ده . په سوله کې مینه وي ، لاس نیوی وي ، ښوونه او روزنه وي ، هوسا ژوند وي ، امنیت وي او دا ټول د ګډ ژوند بنسټ جوړوي.

په سوله کې ټولنه د ودې په لور مخ پر وړاندې ځي . راځئ چې د سولې د تامین لپاره یو بل ته د دوستۍ لاس ورکړو او په ګډه سره د وطن په ابادولو کې برخه واخلو او د ګډ ژوند له لوی نعمت څخه ګټه واخلو.

عفوه

د دې لپاره چې مور ټول په خپل هېواد کې دننه د ژوندانه ښه شرایط برابر کړو، نومور ته په کار ده چې له خپل ځواك څخه ناوړه ګټه وانخلو . دغه زغم په یوه انسان کې هغه وخت پیدا کېږي ، چې د انتقام پر ځای د عفوې دود غوره کړي. خو عفوه هغه وخت ډېر اجر لري او په ټولنه کې په درناوي بدرګه کېږي ، چې ډله یا شخص د انتقام ځواك په واك کې ولري. یانې عفوه د قدرت په وخت کې ډېر اجر او ثواب لري . د دې خبرې مانا داده چې مور او تاسې ته په کار ده چې په کمزورو ظلم او زیاتی ونکړو او په دې ډول په خپل هېواد کې د ګډ ژوندانه لپاره کوټلي ګامونه واخلو.

خوږو زده کوونکو!

تاسې چې په یوه ټولګي کې له خپلو ټولګیوالو سره درسونه وایئ ، په کار ده چې په خپلو منځونو کې لکه د ورونو غوندې ګوزاره وکړئ. په کوچنیانو شفقت او د لویانو درناوی زمور د افغاني ټولنې ډېر غوره دود ګڼل کېږي. که مور او تاسې د یو او بل خبرو ته غوږ کېږدو ، یو له بل سره مرسته وکړو ، په عمل او

وينا کې ربنتيني وسو . دغه د سوله ييز ژوندانه بنسټونه او د ګډ ژوندانه اصول ګڼل کېږي.

زغم

د ګډ ژوند يو بل مهم اصل ، زغم دی . په پښتو کې يو متل دی چې وايي : دوه اوره او يوه کوه. که تاسې دې خبرې ته ښه ځېر شئ انسان دوه غوږونه او يوه ژبه لري . که موږ او تاسې دا اصل په پام کې ونيسو نو وينو چې موږ بايد بل ته ښه غوږ ونيسو او د هغه په هدف او مرام ځان پوه کړو ، بيا سنجول شوی ځواب ورکړو. د دوه تنو تر منځ د مفاهمې او يو د بل په خبرو د پوهېدو اول شرط دا وي چې د بل خبرې ته غوږ ونيسو او خپله خبره په زور په چا ونه منو. په يوه کلي او کورنۍ کې چې کله ستونزه پيښېږي نو د هغې ستونزې زياتره علت دا وي چې په خبره ځان نه پوهوو، خپل او د بل حق نه پېژنو او په سوله ييزه ګډ ژوند باور نه لرو.

نو په کار ده چې خپل او د بل حق و پېژنو د بل ورور ، کلیوال او ملګري خبروته غوږ کېږدو ، په دې توګه کولای شو چې په کورنۍ ، کلي او هېواد کې بې اتفاقي له منځه یوسو او په سوله کې ګډ ژوند وکړو.

FOREWORD

The conditions for learning in Afghanistan are pitifully poor. A recent study conducted by UNESCO reveals that not all the school children in this wartorn country will have complete sets of textbooks, while they sit in the classrooms. Not only are textbooks in short supply, their contents are outdated and limited, and fail to meet the educational needs of children in the 21st century. In the absence of television, newspapers, and other sources of information, Afghan children are generally ignorant of developments taking place in the outside world. This series of supplementary readers, is an initiative by UNESCO to re-inforce the cognitive level of Afghan children by providing information to them in areas, which though important, are not covered in the textbooks presently in use. The set comprising four supplementary readers, is based on the following themes:-

i. Science – Miracles of Science (new inventions)
ii. Health Education – Tips for healthy growth of children
iii. Socialization – Living together (family, peers, and peace education)
iv. Population explosion – Effects of rapid population growth on quality of life.

The subject readers have been produced, both in Pashtu and Dari languages. While eminent Afghan educationists and writers were involved in the process, AREP, an Afghan NGO, worked with UNESCO to facilitate the process of script writing, pre-testing, composing and finalization. The activity has been carried out under the Greater Azra Initiative (GAI) Project, funded by the Government of Japan. We acknowledge and value the contribution of Afghan experts, and support of AREP, in bringing out these materials. We hope these readers would contribute in exposing Afghan children to the new emerging trends around the globe, and widen horizons for them.

This is a trial edition. Suggestions and comments for their improvement will be welcomed.

31st October, 2001

Mrs. Ingeborg Breines
Director, UNESCO Office
Islamabad

Table of Contents

Living Together

Forword
Introduction
Living Together

Importance and Needs for Living Together

- Family/Relatives
- Village
- Town / City
- Nation

School

- Classmates/Peers
- Teachers
- Head Teacher
- School Community

Principles of living together

- Jirgah
- Usher
- Equity / Justice and Fair Play
- Helping Each Other/Cooperation
- Keeping Promises
- Mutual Respect
- Honesty
- Peacefulness
- Forgiveness
- Tolerance